سلطان جان کلیوال ۲۰۱۸/۱۱/۲۷

# پریدی

پریدی چې خوری شی د لمر وړانګې په شنیلو باندی
و کـړی الـوتنه بلبـلان په چمـــــنو بانـــــدی
پریدی چې بزګر په کروندو سهار کـی و کـرځی
وکړی پیــرزویـنــه وږو تـږو پـرګـنـــو بـانــدی
پریدی چې شـلیـدلی ګـریـوانونه ســره و ګنــدی
نیغی بیـا شـلمی شــی په ســرونو پښــتنو بانـدی
پریـدی چې ژړا د یتـیمـانــو نـوره ختــمه شـــی
کیـــدی ګل غـونچـی د شــهیدانو په قبـرو باندی
پریدی چې په جنګ مین د جنګ په اور کی وسوځی
ګـونـدی لـږ خبـر شـی د جنګـونـو په دردو بانـدی
پـوه شــئ زوررو پــه توپـک حـکمـرانـی نه شی
مینه ده چې کړی به پاچا هی د خلکو زړو باندی
پریـدی چې دا سـتړی کلیوال غاړه په غـاړه شـی
واخلـی د غـم پیـتي یـو د بل نـه په اوږو بانـدی

جولای/۲۰۱۴/۱۲
تورنتو ـ کاناډا



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com